

پیوستون تګلاره

۱. پېژندنه

پیوستون – د افغان ټولنیز پرمختګ ټولنه د هالنډ د مدني قانون (Burgerlijk Wetboek) له مخې په قانوني ډول ثبت شوې ټولنه ده: **(Stichting Afghaanse Media & Educatie Nederland – SAMEN)**.

پیوستون د سیاسي او مذهبي تمایلاتو پرته د افغان کلتور، ژبې، ملي ارزښتونو او ټولنیز یووالي د پیاوړتیا لپاره کار کوي. زموږ هدف دا دی چې استعدادونه، علمي او مسلکي کدرونه سره راټول او همغږي کړو، څو د افغان ټولنې لپاره یو مثبت او تلپاتې بدلون رامنځته شي.

۲. لید (Vision)

موږ داسې ټولنه غواړو چې:

- د افغان کلتور، ژبې او ملي دودونو بقا او وده یقیني کړي.
- د ټولنیز پرمختګ، یووالي او مدني ادغام لپاره اغېزمن ګامونه واخلي.
- ځوان نسل د هویتي بحران پر وړاندې ځواکمن کړي.
- د هالنډ په ټولنه کې د افغانانو مثبت او فعال ګډون پیاوړی کړي.

۳. ماموریت (Mission)

- د افغانانو ترمنځ د اړیکو او یووالي ټینګول.
- د کلتور، ژبې او ملي ارزښتونو ساتنه او پرمختګ (ترویج).
- د هویتي او ټولنیزو ستونزو د حل لپاره د ګډو پروګرامونو رامنځته کول.

۴. ستراتیژي / تګلاره (Strategy)

د **پیوستون** ستراتیژي پر لاندې اصولو ولاړه ده:

1. د ګډون پراخوالی – د ټولنې د ټولو غړو، په ځانګړي ډول د ځوانانو، ښځو او نویو کډوالو فعاله ونډه.
2. شبکې جوړول – له کلتوري، ټولنیزو او تعلیمي بنسټونو سره همکاري او ګډې پروژې.
3. د ظرفیت لوړونه – د غړو او رضاکارانو لپاره روزنیز ورکشاپونه، مسلکي مشورې او مهارتونه.
4. رسنیز ځواکمنتیا – د ویبپاڼې، ټولنیزو رسنیو او ملټي میډیا له لارې د افغان کلتور او هویت ترویج.
5. د سرچینو تنوع – د مالي دوام لپاره د بسپنو، سبسیډیو، غړیتوب فیس او سپانسرۍ ګډ ماډل.
6. ارزونه او شفافیت – د پروګرامونو د پایلو منظم څار او د مالي راپورونو خپرول د غړو ترمنځ.
7. ادغام او هویت ساتنه – داسې پروګرامونه چې یو مهال د افغان کلتور وده او د هالنډي ټولنې ادغام پیاوړی کړي.



پیوستون ټګلاره

۵. بنسټیز ارزښتونه

- پرېکړې د ولسواکۍ، ګډو مشورو او رونټیا پر بنسټ ترسره کېږي.
- ولسواکي، بشري حقونو ته درناوی، متقابل احترام او زغم.
- رونټیا او حساب ورکونه.
- د ښځو او ځوانانو فعاله ونډه.
- د ګډ کار او همغږۍ فرهنګ.

۶. اساسي موخې او پروګرامونه

- کلتوري چارې: د ملي، دیني او نورو دودیزو ورځو (لکه خپلواکۍ ورځ، نوروز، اختر) لمانځنه، ګډ کلتوري فستیوالونه، موسیقي او ادبي پروګرامونه.
- تعلیم او ځېرنه: د مطالعې کړۍ، علمي او دیني خپرونې، پښتو ورځ، د کډوالۍ او هویت په اړه ځېرنې.
- ټولنیز ملاتړ: د نویو افغان کډوالو د ادغام، روغتیا، زدکړې او کار په اړه معلوماتي پروګرامونه، د ښځو او کورنیو ځانګړې روزنې.
- رسنیز حضور: رسمي ویبپاڼه، ټولنیزې رسنۍ، ویډیو او پوډکاسټ پروژې.

۷. غړیتوب

- هغه کسان چې د کلتوري همکارۍ لیوالتیا ولري او د **پیوستون** ټګلارې ته ژمن وي.
- د ټګلارې یا د ټولنیزو اصولو څخه د سرغړونې په صورت کې به د **پیوستون** مشرتابه ډله پرېکړه کوي.

۸. تشکیلاتي جوړښت

- **مشرتابه ډله** (کمېټه): د **پیوستون** ټولنې چارې د یوې باصلاحیته شورا (کمېټې) له خوا پرمخ وړل کېږي او د ټګلارې پلي کولو مسؤلیت او صلاحیت لري. پرېکړې د ساده اکثریت په رایه منل کېږي.
  - د **نویو غړو** منل د مشرتابه په کچه د دوو پر درېیمه (۳/۲) اکثریت رایو سره ترسره کېږي.
- **مشورتي جرګه**: د **پیوستون** مشرتابه ډلې او د همکارو ټولنو/بنسټونو د استازو او مدني/ملي ګټو ته ژمن فعالانو ګډوله ده، چې موخه یې د اړخونو ترمینځ همغږي او همکاري ده.
- **د ځوانانو ځانګه** ("پیوستوري / ستوري"): خپلواکه خو د کمېټې تر څار لاندې فعالیت کوي.



پیوستون تګلاره

۹. مالي چارې او رونټیا

- عایداتي سرچینې: د غړیتوب فیس (حق العضویت)، بسپنې، سپانسرشیپ، دولتي سبسیدي او پروژې.
- دري میاشتینی او کلنی مالي راپور چمتو کیږي، د مشرتابه لخوا تصویبیږي او د ټولو غړو لپاره عام دی.

۱۰. د نورو ټولنو سره د همکارۍ څرنګوالی

د ګډو پروژو او رسمي همکاریو لپاره مشرتابه ډله یو باصلاحیته پلاوی ټاکي.
پلاوی د لومړنیو خبرو وروسته د هوکړهلیک مسوده جوړوي چې د مشرتابه کمیټې د ارزونې او تصویب تابع ده.
که اړتیا وي، د مشورتي جرګې نظر هم اخیستل کیږي.

۱۱. ګټو تضاد (Conflict of Interest)

هیڅ مشرتابه غړی نشي کولی د ټولنې منابع د شخصي ګټو لپاره وکاروي.

۱۲. کړنلارې بدلون

د دې تګلارې هر ډول بدلون د مشرتابه ډلې د ساده اکثریت په رایه تصویبیږي.

۱۳. د ټولنې منحل کېدل

- د ټولنې د احتمالي منحل کېدو په صورت کې، د شتمنیو او اسنادو وروستۍ پرېکړه به د مشرتابه ډلې د اکثریت رایو پر بنسټ، د هالنډ د نافذه قوانینو او مقرراتو په رڼا کې ترسره کیږي.
- پاتې مالي شتمنۍ به، د اړوند څېړنو او د غړو سره د سلا مشورې وروسته، یا ببرته قانوني پانګونکو ته ستنیږي، او یا به د ورته کلتوري او ټولنیزو موخو د پیاوړتیا لپاره وکارول شي.

۱۴. ستراتیژیک لومړیتوبونه

- لنډمهاله: منظم کلتوري پروګرامونه، د ځوانانو فعالول، رسنیز حضور پیاوړتیا، د ښځو او ځوانانو روزنیزې پروژې، ګډ کلتوري فستیوالونه او د سبسیدیو ترلاسه کول.
- اوږدمهاله: دایمي کلتوري مرکز جوړول، د افغان ځوانانو مسلکي روزنې، او په هالنډي ټولنه کې د افغانانو استازیتوب پیاوړتیا.